# د محرم میاشت او د عاشورا ورځ

لیکنه: مولوي سیف الله (ساعي)

**د افغان بنسټ د مرکزي دفتر پته:**
درېیم کور، دویمه کوڅه د امام اعظم رحمه الله د مسجد جنوب لور ته خوشحال خان مېنه، کابل ـ افغانستان
اړیکشمېره: 233 071 752 (0) 93+ / 300 046 702 (0) 93+
برېښنا لیک: info@afghanfoundation.net وېبپاڼه: www.afghanfoundation.net

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيم

**حامداً و مصلياً: الله** جل جلاله **فرمايلي دي :** (إِنَّ عِدَّةَ الشُّهُورِ عِندَ اللهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِي كِتَابِ اللهِ يَوْمَ خَلَقَ السَّمَاوَات وَالأَرْضَ مِنْهَا أَرْبَعَةٌ حُرُمٌ) **حقيقت دادی چې د مياشتو شمېر له هماغه ورځې نه چې الله اسمانونه او ځمکه پيداکړې ده د الله جل جلاله په ليکنه کې همدا دولس دي د هغو ( له جملې ) څخه څلور ( مياشتې ) يې حرامې ( داحترام وړ مياشتې ) دي .**

**په دې دولسو مياشتو کې يې څلورو مياشتو ته چې هغه د رجب ،ذوالقعدې ، ذوالحجې او محرم مياشتې دي، د حرمت او احترام وړ مياشتې ويلي دي چې د هغو د حرمت او ادب دوه لاملونه دي لومړی دا چې په دې مياشتو کې جنګ او جګړه کول لکه څنګه چې داسلام نه مخکې ناروا وه، همدا رنګه د اسلام په پيل کې هم ناروا وه؛ خو بيا وروسته دا حکم د زياتو علماوو په اند د همدغه آيت په وروستۍ برخې منسوخ شو، چې** (وَقَاتِلُواْ الْمُشْرِكِينَ كَآفَّةً) **او ټول يو موټی شئ له مشر کانو سره جګړه وکړئ .**

**ډېری شمېر علماء بيا وايي : چې پورتنی حکم په دغه آيت سره منسوخه شو چې** (فَاقْتُلُواْ الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدتُّمُوهُمْ) **نو په هر ځای کې چې مو مشر کان وموندل وې وژنئ .**

**دويم د احترام اوادب لامل يې دادی چې په دغو مياشتو کې دعبادت ثواب زياتيږي، لومړی حکم که څه هم په اسلام کې منسوخه دی؛ خو دويم حکم چې د دغو مياشتو احترام او په دې مياشتوکې عباداتو ته ډېره پاملرنه کول دي دا په خپل ځای پاتې دی.**

**امام جصاص** رحمه الله **په احکام القرآن کې د دغو مياشتو په اړه وايي :الله** جل جلاله **د دغو مياشتو په حرمت او ادب کې دا مصلحت او حکمت په ګوته کړی دی چې په دغو مياشتو کې له ظلم څخه ځان ساتل او د الله** جل جلاله **حکمونو ته په بشپړه توګه پاملرنه کول لکه لمونځ روژه او داسې نور ښه کارونه تر سره کول دا دې ته سړی هڅوي چې په نورو وختونو کې هم په پام کې ونيول شي، لکه چې د جمعې لمونځ يې په يوه ټاکلې ورځ کې لازم کړی، او د رمضان روژې يې په يو ځانګړي وخت کې لازمې ګرځولې دي، او ځينې ځانګړي ځايونه لکه بيت الله شريف او نبوي مسجد يې چې د حکم د پر ځای کولو او له حکم څخه د سر غړولو په باره کې دنورو په پر تله د ډېر ثواب اويا لويې ګناه لامل ګڼلي دي.**

**د پورته ايت په رڼاکې مهمې مسئلې :**

**له دې آيت څخه دا خبره څر ګنديږي چې د اسلامي مياشتو تر تيب او شمېر دا د انسانانو له خپل ځان څخه کومه جوړه کړې اصطلاح نه ده بلکې الله** جل جلاله **د ځمکې او آسمانونو د پيدايښت سره سم دا مياشتې په دې تر تيب په دغه نومونو سره نومولې دي او د ځانګړيو مياشتو ځانګړي حکمونه يې دخلکو لپاره ټاکلي او ښودلي دي . بل له همدې آيت څخه دا خبره معلوميږي چې د الله** جل جلاله **په وړاندې په شرعي حکمونو کې قمري مياشتې د اعتبار وړ دي او په همدغو قمري مياشتو پورې ټول د شرعې حکمونه لکه روژه ، حج ، زکات او داسې نور تړلي دي؛ خو يوه خبره چې بايد په ډاګه شي هغه دا چې لکه څنګه چې قرآن د کال او نېټې د معلومولو لپاره سپوږمۍ يوه نښانه ښودلې ده همدا رنګه يې لمر هم يوه نښانه ښودلې ده لکه چې الله** جل جلاله **وايي :** (وَجَعَلْنَا اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ آيَتَيْنِ فَمَحَوْنَا آيَةَ اللَّيْلِ وَجَعَلْنَا آيَةَ النَّهَارِ مُبْصِرَةً لِتَبْتَغُواْ فَضْلاً مِّن رَّبِّكُمْ وَلِتَعْلَمُواْ عَدَدَ السِّنِينَ وَالْحِسَابَ وَكُلَّ شَيْءٍ فَصَّلْنَاهُ تَفْصِيلاً .) **ژباړه : او موږ شپه او ورځ دوې نښانې ګرځولې دي ؛نو د شپې نښانه مو له منځه يوړه او دورځې نښانه ( لمر ) مو رڼا ورکوونکې وګرځوله څو د خپل رب مهرباني ولټوئ او د کلونو په شمېر او حساب وپوهېږئ . او هر شی مو په تفصيل سره بيان کړی دی.**

**د پورتني ايت له مخې د کال او نېټې حساب په سپوږمۍ او لمر دواړو سره روادی؛ خو الله** جل جلاله **د خپلو حکمونو د وختونو د پېژندلو لپاره د سپوږمۍ حساب غوره کړی دی او ټول حکمونه يې په هغه پورې تړلي دي ؛نو ځکه د قمري حساب خوندي ساتل فرض کفايه دي که چېرې ټول مسلمانان قمري حساب ته شا کړي او هېر يې کړي؛ نو ټول ګناهګار دي او که چېرې د ځينو له لورې خوندي وي؛ نو د بل حساب څخه کار اخيستل هم روادي؛ خو بيا هم د الله** جل جلاله **د را ښولې لارې خلاف او د مخکې تېر شوي امت له لارې څخه چپه لار ده، بې له اړتيا څخه يې غوره کول ښه کار نه دی . (معارف القرآن \۴\ ۳۷۳\ ط : مکتبه معارف القرآن کراچي )**

**د عاشوراء د ورځې روژه :**

**د محرم لسمې نېټې ته عاشوراء وايي چې معنا يې ده لسمه ورځ او دا ورځ د الله** جل جلاله **د ځانګړي رحمت او بر کت ورځ ده؛ تر هغه چې د رمضان روژې نه وې فرض شوې؛ نو د عاشوراء روژه پر مسلمانانو باندې فرض وه، بيا وروسته د رمضان د مياشتې د روژې د فرض کېدو سره د دغه ورځې د روژې فرض والی په استحباب بدل شو؛ ځکه چې دايوه ډېره د بر کت څخه ډکه ورځ ده. تر دې چې رسول الله** صلی الله علیه وسلم **وايي : (صيام يوم عرفة احتسب على الله ان يكفر السنة التي قبله والسنة التي بعده ،وصيام يوم عاشوراء احتسب على الله ان يكفر السنة التي قبله) ( صحيح مسلم \۳\ ۵۷۸\ط :مكتبة البشرى كراتشي باكستان ) ژباړه : زه د عرفات د ورځې د روژې په اړه له الله جل جلاله څخه اميد لرم چې د يو کال مخکې اود يو کال وروسته ګناهونه له منځه يوسي او د عاشوراء د ورځې د روژې په اړه دا هيله لرم چې ديو کال مخکې د ګناهونو د بخښلو لامل جوړه شي .**

**له دې څخه د عاشوراء د ورځې فضيلت او غوره والی څر ګنديږي ؛نو د يو مسلمان لپاره د داسې ورځو او وختونو څخه ګټه اخيستل په کار دي؛ ځکه چې مسلمان بايد تل د آخرت دجوړولو په فکر کې وي اود داسې مبار کو شپو او ورځو له خير او بر کت څخه شاته پاتې نه شي.**

**د يهوديانو له ورته والي څخه ځان ساتنه :**

**لکه څنګه چې له پورته ياد شوي حديث څخه دا خبره معلومه شوه چې په دغه ورځ روژه نيول ډېر لوی ثواب لري چې ديو کال مخکې ګناهونو د بخښلو**

لامل ګرځي او رسول الله ﷺ به هر کال د عاشوراء دورځې روژه نیوله او نورو ته به یې هم د روژې نیولو لارښوونه کوله او په همدغه ورځ یهودیانوهم د شکر ایستلو په موخه روژه نیوله چې په دغه ورځ الله ﷻ موسی ﵇ او بني اسرائیل دفرعون او د هغه له لښکر څخه ژغورلي وو؛ نو د یهودیانو سره یو ډول ورته والی تر ستر ګو کېدلو؛ نو له همدې کبله کله چې یو صحابي نبي کریم ﷺ ته وویل: ای د الله ﷻ رسوله! دا خو یوه داسې ورځ چې یهودیان او عیسویان یې هم احترام کوي؛ نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ورته وویل: که تر راتلونکي کاله پورې وو_ نو که الله غوښتل - د نهم ورځې روژه به هم ونیسو. (صحیح مسلم \۳\ ۵۳۶\ باب صوم یوم عاشوراء رقم حدیث ۲۶۶۳\ مکتبة البشری)

**د صحابه وو (رضی الله عنهم) عمل:**

لکه څنګه چې دا خبره څرګنده ده چې رسول الله ﷺ د را روان کال د نهمې نېټې د روژې نیولو اراده وکړه؛ خو د راتلونکي کال تر را رسېدو مخکې رسول الله ﷺ وفات شو او د روژې د نیولو وخت را ونه رسید؛ نو څکه صحابه وو ؓ د عاشوراء د ورځې د روژې سره دمحرم د نهمې یا یوولسمې نېټې روژې نیولو ته په خپله هم پاملرنه وکړه او نوروته یې هم د نیولو حکم وکړ او یوازې د عاشوراء د ورځې روژه یې مکروه تنزیهي وګڼله؛ خو که چېرې یو څوک یوازې د عاشوراء د ورځې روژه ونیسي نو ګناهګاره به نه وي او د عاشوراء د ورځې د روژې ثواب به یې تر لاسه کړی وي، دابېله خبر ده چې د رسول الله ﷺ هیله دا وه چې دوې روژې دې ونیول شي؛ نو څکه دوې روژې نیول غوره کار دی.

**په عبادت کې هم باید له نوروسره ورته والی نه وي:**

د رسول الله ﷺ له پورته یاد شوي حدیث څخه دا خبره په ډاګه څرګندېږي چې د کفارو سره باید په هیڅ شي کې هیڅ ډول ورته والی نه وي او رسول الله ﷺ هم نه دی خوښ کړی، سره له دې چې دا ورته والی په کوم ناروا کار کې نه وو، بلکې په عبادت کې وو، چې په نوموړې ورځ یهودیانو هم روژه نیوله او مسلمانانو هم؛ خو بیا هم له ورته والي څخه د ځان ساتنې لارې چارې ولټول شوې دا څکه چې اسلام یو بشپړه دین دی او له ټولو دینونو څخه بېلې ځانګړ تیاوې او غوره والی لري؛ نو ددې دین د پیروانو هر کړه وړه، ناسته پاسته، خوی او اخلاق باید له نورو څخه ځانګړي وي او په نبوي لارښوونو کې دې ټکي ته ډېره پاملرنه هم شوې ده لکه دغه یو روایت چې (خالفوا المشرکین) ژباړه: د مشرکانو څخه خپل ښکاره او پټ ځانګړي کړئ.

**د مشابهت ګناه:**

کله چې په بند ګی، عبادت او ښو کارونو کې رسول الله ﷺ ورته والی خوښ نه کړ "نو په نورو هغو کارونو کې به د مسلمانانو ورته والی د کفارو سره څومره بد کار او لویه ګناه وي او د شرم خبره به وي چې یو مسلمان یې په لوی لاس د کفارو په څېر د ښکاره کېدو په موخه تر سره کوي د دې خبرې ځواب به په نبوي لارښوونو کې ولټوو چې رسول الله ﷺ وايي: (من تشبه بقوم فهو منهم) ژباړه: چا چې د بل قوم سره ورته والی غوره کړ هغه به د هغوی له ډلې څخه وي.

د بېلګې په توګه که څوک د کافر په څېر کړه وړه او د هغه کړه وړه کوي د دې لپاره چې د کافر په څېر ښکاره شي نو دا یوه لویه ګناه ده؛ خو که په زړه کې یې دا قصد او اراده نه وي چې د هغوی په څېر ښکاره شي بلکې یوازې د هغوی سره ورته والی وکړي نو دا کار یې له کراهت څخه بیاهم خالي نه دی.

**د عاشوراء د ورځې نور اعمال:**

د عاشوراء په ورځ چې نور کوم کارونه یا کړه وړه د ځینو خلکو له لوري تر سره کیږي چې ځانګړې خواړه باید تیار کړل شي یا ځانګړي پروګرامونه جوړ کړل شي او یا هم د نورو خلکو په مجلسونو کې ګډون کوي، په قرآن کریم، احادیثو او اسلامي فقهي کې هم د دې ډول کړو هیڅ ثبوت نشته او ځان باید ځینې وساتل شي، که نه د بدعت په لویه بې برکتۍ کې به اخته او د سنتو له برکت څخه به محروم پاتې شي؛ خو یوه خبره چې د یادونې وړ ده هغه دا چې په یو ضعیف روایت کې راغلي دي چې که چا په دغه ورځ دخپلې کورنۍ له غړیو سره له پراخی څخه کار واخیست چې ښه خوراک او څښاک یې ورته تیار کړل الله ﷻ به د هغه په روزۍ کې برکت واچوي. د دې روایت سند که څه هم کمزوری دی؛ خو بیا هم که چېرې یو څوک د دې روایت پر بنسټ داسې وکړي؛ نو له الله ﷻ څخه امید دی چې د دغه فضیلت څخه به یې بې برخې نه کړي.

**د عاشوراء په ورځ پر ځان ظلم کول:**

کله چې الله ﷻ د څلورو مبارکو او احترام وړمیاشتو بیان وکړ؛ نو په همدغه آیت کې یې دې ټکي ته هم د خلکو پاملرنه را واړوله چې په دغو میاشتو او ورځو کې د عبادت په پرېښودلو او نورو غلطو کارونو په کولو سره په خپلو ځانو ظلم مه کوئ او داسې یې وویل: (فَلَا تَظْلِمُوا۟ فِيهِنَّ أَنفُسَكُمْ) (سورة التوبة، آیت ۳۶) ژباړه: په دغه میاشتو کې په خپلو ځانونو ظلم مه کوئ.

په دغه ورځو کې پر ځان ظلم دا دی که څوک په دغو ورځو کې ګناه وکړي او یا د ګناه مجلسونو ته لاړ شئ یعنې د غلطو کړو وړو څخه لاس په سر نه شي په بدعاتو او خرافاتو کې لاس او ګرېوان شي او عبادت او نېکو کارو ته شا وګرځوي، الله ﷻ ته خو د هر څه علم و؛ څکه یې له وړاندې دا خبر ورکړ چې په دغه شپو او ورځو کې به ځینې خلک په خپلو ځانونو ډول ډول ظلمونه کوي.

**د موسی (علیه السلام) خلاصون د عاشوراء په ورځ:**

کله چې موسی ﵇ د خپل قوم سره د فرعون او د هغه له لښکر څخه د دریاب په لوري روان شو" نو د الله ﷻ په حکم سره موسی ﵇ خپله لکړه په دریاب کې ووهله چې په پایله کې د هغوی لپاره په اوبو کې لارې جوړې شوې "خو کله چې فرعون او لښکریانو یې کړه وړه ولیدل؛ نو دوی هم په اوبو ورګډ شول همغه و چې اوبه د یوې او بلې خوا پرې راغلې، فرعون د خپلو لښکریانو سره په اوبو کې ډوب شو. دا د عاشوراء ورځ وه لکه چې په یو حدیث کې راځي چې ابن عباس ؓ څخه روایت دی: (ان رسول الله ﷺ قدم المدینة، فوجد الیهود صیاما، یوم عاشوراء، فقال لهم رسول الله ﷺ: ما هذا الیوم الذي تصومونه؟ فقالوا: هذا یوم عظیم، انجی الله فیه موسی وقومه وغرق فرعون وقومه، فصامه موسی شکرا، فنحن نصومه، فقال رسول الله ﷺ: فنحن احق واولی بموسی منکم فصامه رسول الله ﷺ وامر بصیامه) (صحیح مسلم \۳\ ۵۳۳\ باب صوم یوم عاشوراء رقم حدیث ۲۶۵۵\ مکتبة البشری) ژباړه: کله چې رسول الله ﷺ مدینې ته راغی؛ نو ویې لیدل چې یهودیانو د عاشوراء په ورځ روژه نیوله، پوښتنه یې وکړه چې په دې ورځ ولې تاسو روژه نیسئ هغوی ورته وویل: چې دا یوه لویه ورځ ده څکه په دغه ورځ الله ﷻ موسی ﵇ او د هغه قوم ته نجات ورکړ او فرعون له خپل لښکر سره غرق شو، موسی ﵇ د الله ﷻ د شکر ایستلو په موخه روژه ونیوله؛ نو څکه یې موږ هم نیسو نو رسول الله ﷺ وویل: چې موږ موسی ﵇ ته له تاسونه ډېر ور نږدې او حق داره یو او بیا رسول الله ﷺ په خپله روژه ونیوله او نوروته یې د روژې نیولو حکم وکړ.

**د عاشوراء ورځې د فضیلت لامل:**

د دغې ورځې د حرمت او غوره والي لامل یوازې الله ﷻ ته ښه معلوم دی او موږ ته د دې په اړه د څېړنو اړتیا هم نشته چې ولې دا ورځ دومره د خیر او برکت ورځ وګرځېدله اودا خبره چې په ځینو نورو خلکو کې مشهوره ده چې آدم ﵇ د عاشوراء په ورځ دنیا ته راغی او دنوح ﵇ کشتۍ چې د طوفان له ختمېدو وروسته په کومه ورځ د جودي په غره تم شوه، س هغه د عاشوراء ورځ وه یا ابراهیم ﵇ چې د نمرود لخوا په اور کې واچول شو او بیا هغه اور الله ﷻ د ده لپاره ګل ګلزار کړلو هغه د عاشوراء ورځ وه او یا داچې قیامت به دعاشوراء په ورځ منځ ته راځي دا ټولې هغه خبرې دي چې کوم اصل او بنسټ نه لري هیڅ یو صحیح روایت نشته چې دا خبرې ترې څرګندې شي چې دا پېښې د عاشوراء په ورځ را منځ ته شوې دي.

**د عاشوراء په اړه د ځینو خلکو غلطي:**

ځینې خلک دا فکر کوي چې د عاشوراء د ورځې فضیلت او غوره والی د رسول الله ﷺ د لمسي د شهادت له کبله دی څکه چې په دې ورځ د رسول الله ﷺ ګران لمسی حسین ؓ شهید شو او د همده د شهادت له کبله دا ورځ دومره مبارکه او غوره وګرځېده؛ خو دا خبره صحیح نه ده، څکه د رسول الله ﷺ له وخته دا ورځ په اسلام کې یوه مقدسه، د احترام، خیر، برکت، ادب او فضیلت ورځ ګڼل کېدله، قرآن کریم او احادیثو ددې د حرمت او احترام اعلان کړ اود دې ورځې ځانګړې حکمونه یې بیان کړل دحسین ؓ د شهادت پېښه؛ خو د رسول الله ﷺ له وفات څخه نږدې شپېته کاله وروسته را منځ ته شوه، بلکې اصل خبره داده چې په دغه ورځ کې د حسین ؓ د شهادت پېښه را منځته کېدل دا دحسین ؓ د لا زیات فضیلت لامل شوه، او همدغې ورځې د حسین ؓ په فضیلت کې لا زیاتوالی راوستلو.

**دغه لیکنه قرآني آیاتونه او احادیث لري هیله ده چې وې ساتئ!**